# د عبدالقادرختک پر شاعری د قرآن کریم اغېز

# The Influence of the Holy Quran on The Poetry of Abdul Qadir Karkhtak

Dr Yar Zaman Maingal *


## ABSTRACT

*Abdul Qadir khatak is a renown and famous poet of Pashto language. The Late khatak had run his horse in every race and appeared gripped successfully in any field and he had proved that he is a capable poet in every aspect. Every kind of topic is considered by him, if that is matter of morality, or the beauty of nature and he had translated many good works from Arabic and Persian language too. Here we merely pay attention to that side of his poetry where he is influenced by the holy Quran kareem and we want to see how much he had been affected?*

*These influences are visible in his poems, where we want to present that in the following forms:*

1- *Semantic influences in his Pashto poems.*
2- *Technical influences in his Pashto poems.*
3- *Literally influences in his Pashto poems.*


**Key words**: Quran kareem, influences, literally, technically.

عبدالقادر ختک د پښتو ژبې نومیالی او وتلی شاعر دی، او د پښتو ادب کره کتونکو نوموړی د توري او قلم خاوند شاعر بللی اروابناد ختک په هر ډګر کښې خپل اس ځغلولی اوشاعري یې کړې ده، نوموړي دا خبره په اثبات رسولې چې هغه په هره موضوع کښې شعر ویلی شي. داسي موضوع اوعنوان به نه وي چې هغه پکې خپل بخت نه وي ازمایلی، هغه که اخلاقي شاعري وي تصوفي اویا هم ذاتي شاعري.

موږ دلته د ختک بابا دشاعرۍ په یو اړخ باندې خبرې کوو اوهغه له قرآن کریم څخه د بابا اغیزمنتیا ده، په دې معنی چې شاعر پخپله شاعرۍ کې د قرآن کریم څخه څومره اغېزمن برېښي؟

د نوموړی شاعر په فکر او شاعری باندې د قرآن کریم تاثیر او اغېز په بیلا بېلو ډولونو څرګندیږي چې موږ یې په لاندې ډول څېړو.

ا- موضوعي اغېز: چې د قرآن کریم ژباړه یې په پښتو کړې وي.

* پوهنوال. دعربی څانګې علمي غړی .کابل پوهنتون- افغانستان

ب- هنري اغېز: چې يوه موضـوع يې پخپل کلام کې په فني او هنري ډول رانغښـتې وي، او دا يې هنري وړتيا ثابتوي.

ج- لفظي اغېز: چې د قرآن کريم الفاظ اوکلمات يې پخپل کلام کې کارولي وي.

کليدي وييونه: قرآن کريم، لفظي، هنري، اغېز، پرتليزه

الله تعالی جل جلاله قرآن کريم دانسـانيت د لارښـوونې لپاره د يو سـپېڅلي کتاب په توګه رالېږلی ځکه چې انسـان دځمکې پرمخ دالله تعالی ځای ناسـتی بلل کيږي. قرآن کريم يې د جبراييل عليه السـلام په واسـطه په واضحه اوڅرګنده عربي ژبه په حضرت محمد صلی الله عليه وسلم نازل کړ ترڅو خلک له تيارو څخه رڼاګانو ته راوبولي اود انسانيت اوحق لارې لارښونه ورته وکړي.

نومسـلمانانو دلارښـوونې په لټه کې په قرآن کريم منګولې ټينګې کړې ځکه چې دا ټول بشـريت ته دالله جل جلاله پيغام دی اود ژوندانه په مختلفو برخو کې دانسـانانو روحي، فزيکي ،فرهنګي او اقتصادي سـتونزې حل کوي.

موخه: له قرآن کريم څخه دعبدالقادرخټک اغېزمنتيا اوډياد اثر په اندازه پوهېدل او دا هم چې د شـاعر په کلام باندې دهغه څه اثر دی؟

الله پاک قرآن کريم د انسانيت او بشريت د لارښوونې لپاره راليږلی دی، ځکه چې انسان د ځمکي پر مخ د الله پاک ځای ناستی او استازی ګڼل کيږي. د روح الامين په مټ په محمد عليه السـلام باندې په عربی ژبه نازل شـوی دی، تر څو وګړي اوخلک د تيارو څخه د رڼاګانو لوري ته وبولي، او انسـانيت د هدايت او رشـد لپاره غوره کړي. نو لدی کبله مسـلمانانو تل په قرآن کريم کلکې منګولې ولګولې او دهغه له لارښـونو اوهداياتو څخه يې فيض اخيستو، قرآن کريم د ژوندانه د ټولو اړخونو دسـتونزو د حل لپاره معقولې حل لارې لري. هغه که روحي وي او يا عقلي، اقتصادي وی يا سياسي، ځکه چې هغه د الله پاک نازل شوی کتاب دی، نو د هرې ستونزې لپاره په هره زمانه کې معقول ځواب وايي.(القطان: ١٧)

قرآن کريم هغه سـمندر ته ورته دی چې بريد يې نه وي محدود، او د علومو او معارفو په بېلابېلو خزانو مالا مال دی، هر څوک چې غواړي له دغه علومو او ذخيرو برخمن شـي، هغه ته په کار ده چې دغه سـمندر کې غوپې ووهي ترڅو له هغه څخه لالونه او قيمتی کاڼي را وباسي.(الصابونی: ج، ١: ١٢٣) لکه څرنګه چې پدې اړه عبدالله ابن مسعود رضی الله عنه فرمايلی دي: "که څوک د پخوانيو او اوسنيو علم غواړي نو د قرآن کريم ژوره مطالعه د وکا"(الآلوسي:ج، ١: ٧).

د موضــوع د ټاکلو یو مهم لامل دا دی چې ما د ډېرې مودې نه په پرتلییزو ادبیاتو کې مطالعه کړې او ومې موندل چې د قرآن کریم تاثیر او اغیز د ډېرو شــاعرانو پر کلام باندې په عام ډول، او د خټک پر شــاعرۍ په ځانګړې ډول ډېر روښانه دی، نوله دې امله مې وغوښتل چې په همدې موضوع یوه علمي مقاله ولیکم.

د شاعر پېژندنه: عبدالقادرخټک دیوولسمې پېړۍ له پښتنو شاعرانو اولیکوالو له ډلې دی، نوموړی شاعر په(۱۰۶۳هــ) کال د اوسنۍ پښتونخوا په اکوړه خټک ښار کې زېږېدلی، خټک دخپل وخت مروج دیني او ادبي علوم په داسې ډول زده کړل چې دخپل وخت یوه نامتو څېره وګرځېده. او د هماغه علومو په تدریس یې پیل وکړ او ګڼ شمېر شاګردان یې وروزل.

خټک په عربي او دري ژبو رواني خبرې کولې هغه دالبوصـیري قصـیده چې (برده) نومېږي له عربي ژبې څخه پښتـو ته وژباړله اوهمدا ډول د شـیخ سـعدي کتاب (ګلسـتان) یې د (ګلدسـتې) په نوم او دعبدالرحمن جامي د(یوسـف زلیخا) کیسـه یې له فارسـي ژبې د ټولو ادبي ښـکلاګانو سـره پښـتو ژبې ته ژباړلې دي. په پښـتوشـعر کې د هغه دیوان(حدیقه خټک) او د هغه بل کتاب د(نصـحیت نامه) او بله لیکنه یې د(څلوېښـت حدیثونّه) کتاب دی.

عبدالقادر خټک موږ ته د تصــوف او ادبیاتو په برخه کې لوی میراث پرېښــی دی چې دا د هغې زمانې د واکمنانو لپاره دویاړ اوستاینې ځای وو.

خټک بابا خپل موضــوعات له قرآن کریم څخه را ایســتلي اوخپل شــعرونه یې په قرآني الفاظو، اوعبارتونو ښـایسـته کړي دي. هغه دخپلو احسـاسـاتو دڅرګندولو لپاره په کافي اندازه هڅه کړې چې کلام یې له قرآني معناګانو ډک شي. بابا دنورو اسلامي شاعرانو په څېر دقرآن کریم تر تاثیر لاندې و. دلته به د قرآن کریم اغیز د خټک بابا پر شاعرۍ په تفصیلي ډول تر شننې لاندې ونیسو.

الله پاک قرآن کریم د انســانیت او بشــریت د لارښــوونې لپاره رالیږلی دی، ځکه چې انســان د ځمکې پر مخ د الله پاک ځای ناسـتی او اسـتاذی ګڼل کیږي. قرآن کریم دجبریل علیه السـلام پر مټ په محمد صـلی الله علیه وسـلم باندې په عربی ژبه نازل شـوی دی، تر څو وګړي دتیارو څخه د رڼاګانو لوري ته وبولي، او انسـانیت د هدایت او رشــد لاره غوره کړي. نو لدې کبله مســلمانانو تل په قرآن کریم کلکې منګولې لګولې، او د هغه د لارښــوونو اوهدایاتو څخه یې فیض اخیســتی، قران کریم د ژوندانه د ټولو اړخونو دســتونزو د حل لپاره معقولې حل لارې لري. هغه که روحی وي یا عقلي، اقتصـادی وي یا سـیاسـی، ځکه چې هغه د الله پاک نازل شوی کتاب دی، نو د هرې ستونزې لپاره په هره زمانه کې معقول ځواب وایي.(القطان: ۱۷)

همدارنګه قرآن کریم د بلاغت اوفصـاحت نه یو ډک کتاب دی، او تل خپل مخاطب په روان او نرم اسـلوب ځـانتـه جذبوي، او دغوږ نیولو شـــوق پکې زیـاتوي، امـام قرطبی پـدې هکلـه وایي: د قرآن کریم بلاغت

اوفصاحت د احسان د لوړو طبقو څخه دی، او د ایجاز بیان د جګو پوړیو څخه شمېرل کیږي، بلکې لدې څخه هم لوړ او پورته دی. (القرطبي ج، ۱ـ ص۷۷)

نو لدې کبله قرآن کریم د شاعرانو او ادیبانو پر شعرونو اولیکنو په شکل، مضمون، ژبه اوخیال خپل ښکاره اثر پریښود ، دکتور شوقی ضیف د عربی نړی مشهور لیکوال پدې اړه وایي: "بې له شکه اسلام د لیکوالو او شاعرانو په نفسونو ژوره اغیزه وکړه، آن تر دې چې دځینو شاعرانو څخه يې واعظان اوخطیبان جوړ کړل، خلکو ته يې نصیحتونه پیل کړل، د الله پاک لوري ته یې رابلل، او د اخرت دعذابونو څخه يې ویرول، اوهمدارنګه د دنیا او د هغې نه پاتې کیدونکي نعمتونو په اړه یې لوستونکو ته پندونه ویل" (ضیف ص۱۸۲)

دا خبره ثابته ده چې قرآن کریم د اسلامي شریعت لومړنی اخځای ګڼل کیږی، اومسلمانان همیشه د مسايلو د حل په پار دغه آسمانی کتاب ته رجوع کوي.

له قرآن کریم څخه دعبد القادر خټک اغیزمنتیا

لړ وړاندې دې خبرې ته اشاره وشوه چې ادیبان اوشاعران تل دخپلو خبرو اومطالبو د تقویې لپاره قرآن کریم ته مراجعه کوي، هغه معناګاني ترې اخلي چې د دوی کلام ته قوت اوغښتلتیا وربخښي، په ځانګړي ډول دوی تل د اسلامی تربیې په برخه کښې خپل کلام دقرآن کریم په زیور ښایسته کوي.

د خټک بابا په فکر او شاعری باندې د قرآن کریم تاثیر او اغیز په بیلا بیلو ډولونو څرګندیږي چې موږ يې په لاندې ډول څېړو.

۱- موضوعي اغیز: چې د قرآن کریم ژباړه یې په پښتو کښې کړې وي.

۲- فني(هنري) اغیز: چې د قرآن کریم یوه موضوع یې پخپل کلام کې په فني ډول رانغښتې وي، او دا یې فني ورتیا ثابتوي.

۳- لفظي اغیز: چې د قرآن کریم الفاظ او کلمات یې پخپل کلام کې کارولي وي.

اوس به په پورتنیو اړخونو لږ په تفصیل سره رڼا واچوو:

**1- موضوعي اغیز:**

مخکې اشاره وشوه چې خټک بابا د خپل دریځ د پیاوړتیا په پار قرآن کریم ته رجوع کړې اومفاهیم یې ترې اخیستي او بیا یې ژباړلي، د بابا په کلام کې په ډیرو ځایونو کښې داسې معناګاني وینو چې د قرآن

کریم څخه اخیستل شوې دي، او ځینې داسې موضوعات یې یاد کړي دي چې قرآن کریم بیان کړي. هغه دا کار له دې لپاره کړی چې ټولنه په اسلامي اخلاقو وروزل شي، او سالمه تربیه یې وشي.

عبدالقادر خټک خپلې موضوع ګانې د قرآن کریم څخه اخیستې او په خپل کلام کې یې کارولې دي، که چیرته د نومورې دیوان په غور سره ولوستل شي، نو ډیری مفاهیم، تعبیرات او کلمات شته چې هغه استعمال کړي دي، مثالونه یې زښت ډېر دي. دبېلګې په ډول یو ځای په خپل کلام کښې درسول صلی الله علیه وسلم پیروی ته اشاره کړې ده او هغه یې پرمسلمانانو لازمي ګڼلې ده، شاعر وایي(دیوان:۲۳) .

خدای په خپله ستا صفت دی بیان کړی     نه شته شي چې مدحه ستا د اوصاف نه کا

چې یې ستا په شریعت قدم ثابت کـړ     له صراطه دې هغـه سرې خـاف نـه کا

پرته له شکه چې خټک بابا پاسنی معنا او مفهوم د قرآن کریم له [قُلْ إِنْ كُنْتُمْ تُحِبُّونَ اللَّهَ فَاتَّبِعُونِي يُحْبِبْكُمُ اللَّهُ﴾(ال عمران: ۳۱) آیت څخه اخیستې، او په قرآن کریم کې داسې ډېر ایتونه شته چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په پیروی او متابعت ټینګار کوی، اوڅوک چې دالله جل جلاله د متابعت دعوا کوي نو باید د رسول الله صلی الله علیه وسلم پیروي هم وکړي.

بل ځای شاعر د ونې دپیدا ابینت او څرنګوالی او د هغې څخه د اور پیدا کېدلو په اړه خبرې کړې، شاعر وایي: (دیوان: ۴۰)

چې له شنې ونې نه سرې لمبې پیدا کا     که له سرو لمبو بهار کا څه عجب

پرته له شکه چې خټک بابا یاده معنا د قرآن کریم لدې آیت څخه راخیستې ده چې وایي:﴿أَفَرَأَيْتُمُ النَّارَ الَّتِي تُورُونَO أَأَنْتُمْ أَنْشَأْتُمْ شَجَرَتَهَا أَمْ نَحْنُ الْمُنْشِئُونَ] (الواقعة 71-72) یعني: ایا تاسو هغه اور لیدلئ چې تاسو یې بلوئ؟ تاسو یې ونې پیدا کړې که موږ؟

بل ځای عبدالقادر خټک د آدم علیه السلام دپیدا ابینت حکمت ته په اشارې وایي: (دیوان:106)

چې مخلوق یې کړ آدم له ما و طینه     روح یې کړ له خپله روحه پکې دم

بې له شکه چې بابا پورتنی معنا د قرآن کریم د دې آیت څخه راخیستې چې وایي: ﴿وَلَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنْسَانَ مِنْ سُلَالَةٍ مِنْ طِينٍ﴾ (المومنون: ۱۲) یعني: په یقین سره موږ انسان د خاورې د نسب نه پیدا کړ.

یاد آیتونه د انسانیت د پلار پیدا ابینت ته اشاره کوي، او دا خبره زباتوي چې د انسان اساس او بنسټ د خاورې څخه دی، نو انسانانو ته په کار ده چې تل تواضع، عاجزي او خاکساري وکړي.

همدارنګه بل ځای شاعر د هغه نعمتونو یادونه کړې چې الله پاک آدم علیه السلام ته په جنت کې ور کړې، شاعر وایي: (دیوان: 107)

و جنت ته یې روان ډېر په اعزاز کړ        پرې پریوان یې کړ انواع انواع نعم

پرته له شکه شاعر دغه مفهوم د قرآن کریم له هغه آیاتونو را اخیستی چې په جنت کې د آدم علیه السلام د درناوي په اړه راغلي، الله پاک فرمایي: ﴿وَقُلْنَا يَاآدَمُ اسْكُنْ أَنْتَ وَزَوْجُكَ الْجَنَّةَ وَكُلَا مِنْهَا رَغَدًا حَيْثُ شِئْتُمَا﴾(البقرة:35)

یعنې: بیا مونږ ادم ته وویل چې ته او میرمن مو جنت کې اووسئ، او وخورئ په پوره پراخۍ هر څه مو چې خوښ وي.

بل ځای عبدالقادرخټک په نورو بیتونو کې دآدم علیه السلام دجنت نه د راوتلو یادونه کړې ده، او دا خبره یې په ډاګه کړې چې شیطان تل انسان ته په کمین کې دی او دسیسې ورته جوړوي، وایي: (دیوان:107)

بیا شیطان یې وسوسه ور وسته زړه ته        په ویل یې د حوا وخوړ غنم

د جنت جامې یې والوتې له تنه        بې لباسه شو بربنډ په هغه دم

له جنته یې بیرون په درد او دوک کړ        د عاصي آدم ندا شوه په عالم

پرته له شکه چې خټک بابا یاد مفهوم د قرآن کریم له هغه آیت څخه راخیستی چې وایي:﴿فَأَزَلَّهُمَا الشَّيْطَانُ عَنْهَا فَأَخْرَجَهُمَا مِمَّا كَانَا فِيهِ وَقُلْنَا اهْبِطُوا بَعْضُكُمْ لِبَعْضٍ عَدُوٌّ وَلَكُمْ فِي الْأَرْضِ مُسْتَقَرٌّ وَمَتَاعٌ إِلَى حِينٍ﴾ (البقرة: ٣٦)

یعنې: بیا شیطان دواړو ته په زړه کې وسوسه واچوله، له هغه نعمتونو یې وویستل چې دوی په کې وو، او مونږ ورته وویل چې له جنته کوز شئ، او تاسو به د یو بل دښمن وی او پرځمکه به تر یو وخته اوسېږی .

عبدالقادر خټک بل ځای د الله پاک لویې او په بندګانو یې د هغه شفقت او مرحمت ته اشاره کړې، او یادونه یې کړې ده چې که بنده ګان هر څومره کوښښ او هڅه وکا چې د الله پاک د نعمتونو شکر ادا کا ، نشي کولای، شاعر وایي: (دیوان:415)

که سیندونه د جهان واړه سیاهي شي        قلمونه د جهان واړه اشجار کا

د خپل خدای د نعمتونو په حساب شي        ګومان مه کړه چې یې یو نعمت په شمار شي

له شـک پرته چې خټک بابا یاد مفهوم د قرآن کریم له دغه آیت شـریف نه را اخیسـتی چې وایي: ﴿قُلْ لَوْ كَانَ الْبَحْرُ مِدَادًا لِكَلِمَاتِ رَبِّي لَنَفِدَ الْبَحْرُ قَبْلَ أَنْ تَنْفَدَ كَلِمَاتُ رَبِّي وَلَوْ جِئْنَا بِمِثْلِهِ مَدَدًا﴾(الکهف: 119) یعنی: که چېرته دا سیندونه رنګونه شي تر څو د الله پاک نعمتونه ولیکي، نو دا سیندونه به ختم شي وړاندې له دینه چې د الله پاک احسانونه ولیکل شي، که نور رنګونه هم راوړو.

او همدا رنګه عبدالقادرخان خټک په بل ځای کې دالله تعالی د عرش اوقدرت په اړه خبرې کړي، لوړ آسمانونه پرته له ستنو درولي چې دا کار د بشر له توان نه لرې خبره ده، شاعر وایي: (دیوان: 416)

هم بې ستنو یې آسمان دی درولی　　حیرانیږي چې نظر ورته هوښیار کا

بې له شـکه چې خټک بابا یاد مفهوم د قرآن کریم له دغه آیت څخه را اخیسـتی چې وایي: ﴿اللَّهُ الَّذِي رَفَعَ السَّمَاوَاتِ بِغَيْرِ عَمَدٍ﴾(الرعد:2) یعنی: الله پاک هغه ذات دی چې آسمانونه یې پرته له ستنو درولي.

ب- فني(هنري) اغیز:

له پورته یاد شوو مواردو سربېره خټک بابا له قرآن کریم نه فني او هنري اغیزه هم قبوله کړې ده، او قرآن کریم یې په هنري ډول کارولی دی، تر څو په دې وسیله د خپلو عواطفوا اواحساساتو څرګندونه وکړي، او د خپل وخت د ټولني واقیعتونه او ناخوالي پکښې ونغاړي، پدغه ډول کارولو بابا قرآن کریم تحت لفظي ندی ژباړلی، بلکې هغه یې په هنري قالب کښې اچولی او بیا یې خپل عواطف پکې ورنغښتي. اودا کار هغه څوک کولای شـي چې د قرآن کریم او د قرآني علومو په اړه پوره او بشـپړ معلومات ولري. دا کار د هرچا د وس اوتوان کار ندی، بلکې ډېر مهارت غواړي ترڅو د پېښېدونکې پېښـې او دریځ تر منځ اړه ټینګه کړای شـي، نو لدې کبله ادیب اړ دی چې زور فکر وکړي ترڅو په خپل هوډ کې بریالی شي.

د بېلګې په ډول خټک بابا یو ځای خپل احساس د ادریس علیه السلام د مرګ د پېښـې په اړه بیان کړی دی، او دا خبره یې په اثبات رسولې چې هیڅوک له مرګ نه نشي خلاصېدی، شاعر وایي: (دیوان:65)

له اجله یې هوري خلاصی ونه شو　　ځان ادریس له ځمکې پاس که په سما یوړ

نو دلته د شـاعر موخه دا ده چې موږ ته دا خبره را وښـایي چې د مرګ څخه خلاصـون نشـته، که څه هم ادریس علیه السلام بره آسمان ته وخوت، خو دغه تللو دی له مرګ نه خلاص نشو کړای.

بل ځای عبدالقادر خټک له خپل احسـاسـاتي دریځ څخه اخلاقی لوري، یعنی دالله جل جلاله لارې ته دعوت هدف وو، اود عیسی علیه السلام په کیسه یې استدلال کړی، کله یې چې خپل قوم ته دتوحید بلنه شروع کړه آرامه او اسوده ځمکه یې دجنګونو اوجګړو ځای وګرځوله، شاعر وایي: (دیوان: ص 65)

چې دنیا یې په خپل ځان باندې تنور کړه　　و آسمان و ته یې ځکه مسیحا یوړ

نو د خټک بابا مطلب دلته دعیسی علیه السلام دکیسې تکرار نه دی، بلکې هغه دا بیانوي چې څوک د الله لارې ته دعوت کوي نو دستونزو سره به خامخا مخ کیږي، او شاید خپل هغه خوښ ځایونه او حتی هېواد پرېښودو ته هم اړ شي او هجرت وکړي.

همدا رنګه خټک بابا بل ځای کې په خپلو احساساتو کې دعیسی علیه السلام هغه کیسې ته اشاره کړې چې څنګه به یې دالله پاک په امر مړي را ژوندي کول، او دلته دخپل محبوب جدایي او بېلتون ته اشاره کوي چې ستا وصال ماته د عیسی علیه السلام تر دمه کم ندی شاعر چې وایي: : (دیوان: ص: 92)

زه مرده ته مې عیسی یې　　ژوندی کېږم ستا په دم

د خټک بابا موخه دلته لفظي تکرار ندی، بلکې غواړي چې خپل داخلي واقعیت او احساس راوسپړي، اوخپل عواطف د محبوب اوګران شخصیت په هکله څرګند کړي. د بابا دغه تعبیر اوجوړښت د شاعر دننه نفساني حالت انځوروي، او د تولنې په هکله د بابا د لید په ریښتینولی دلالت کوي.

بل ځای بابا د خپل شعر پر متن خپله شخصي تجربه بیان کړې، او دا تجربه یې د قرآني دریځ نه پیاوړې کړې ده، شاعر وایي: (دیوان: 93)

څو په کې پراته دي د یوسف غوندې　　ډک له ښکلیو چاه زنخدان لرم

دلته هم د بابا هدف لفظي تکرار ندی، بلکې غواړي چې خپل داخلي واقعیت او احساس را ښکاره کاندي، اوخپل عواطف د مینې ګرانښت او محبت په اړه په ډاګه کړي. د بابا دغه تعبیر اوجوړښت د شاعر دننه نفساني حالت انځوروی، او د تولنې په هکله د بابا د لید په صداقت دلالت کوي، او دا چې تولنه دپاکو، مینه ناکو او سپېڅلو په شتون اباده، ښکلې او ودانه وي.

له شکه پرته چې عبد القادر خټک د یوسف علیه السلام له کیسې ګټه اخیستې ترڅو موږ ته خپل داخلي احساس او عواطف بیان کړي او د خپلو احساساتو اظهار پر متن یې مینانو او مینې ته اشاره کړې.

او همدارنګه خټک بابا په بل ځای کې دخپلو احساساتو ښکاره کولو په پار د رسول الله صلی الله علیه وسلم شفاعت یادونه کړې، اوپه دې باندې وياړي چې دهغه د امت څخه دی، او دا خبره ثابته ده چې پرته د رسول صلی الله علیه وسلم له شفاعت نه جنت ته ننوتل نا شوني دي، شاعر وایي: (دیوان: 119)

چې شفیع مې د ګناه خیر الانام دی　　غم مې نشته که هر څو شر الانام یم

دلته لولو چې شاعر د قیامت په ورځ د شفاعت له قضیې نه په ګټه اخیستنې، چې ټول پیغمبران علیهم السلام به هر یو د خپل امت شفاعت کوي، مګر محمد علیه السلام به دټولو امتونو شفاعت کوي. شاعر په دې ویاړي چې د خاتم النبیین له امت څخه دی.

بل ځای ختک بابا په خپلو احساساتو کې داسې تعبیر کړی او د خپل محبوب شکلا یې د اب کوثر سره تشبیه کړې ده، هرڅوک یې چې ویني داسې ګومان کوي چې دکوثر دابو نه یو ګیلاس اوبه څښې، شاعر وایي: (دیوان: 185)

د کوثر د اوبو آب دې مخ لړینه　　　　د مشتاقو ځنې نه ماتیږي تنده

نو ښکاره خبره ده چې شاعر دقیامت په ورځ د کوثر د اوبو دڅښلو منظر یاد کړی او دې اصل ته اشاره شوې ده چې هر څوک دکوثر اوبه وڅښي هیڅکله بیا نه تږی کیږي، نو ختک بابا دلته نه غواړي چې لفظي تکرار وکړي، بلکې هغه غواړي چې د کوثر د اوبو په مټ دخپلو احساساتو بیان وکړي.

بل ځای ختک بابا د نوح علیه السلام له کیسې نه تعبیر اخیستی چې ۹۵۰ کاله یې خپل قوم ته د توحید بلنه ورکړه، او ورسته یې خپله هم له نړۍ رحلت وکړ، مال، اهل او کورنۍ ترې پاتې شول، شاعر وایي: (دیوان: 469)

خبر شه د نوح لــه حـاله　　　　چې یې عمر وو زر کاله

نه شو خلاص د مرګ له جاله　　　　په ارمـان لاړ له عـــالـه

پرته له شکه چې شاعر د نوح علیه السلام د هغه کیسې یادونه کړې چې په قرآن کریم کې راغلې، خو بابا یې دلته لفظي تکرار ندی راوړی بلکې شاعر خپل عواطف او احساس د نړۍ د نعمتونو د زوال په اړه په ډېر هنریت سره بیان کړی، او دې حقیقت ته اشاره شوې چې د انسان عمر هرڅومره اوږد شي او نعمتونه یې ډېر شي ټول ترې پاتې کیږي.

اوهمدارنګه په بل ځای کې شاعر د هغه درونډ مسوولیت په اړه خبرې کوي چې ځمکې اوآسمانونو یې د وړلو انکار وکړو خو انسان دې مسوولیت ته اوږه ورکړه او دا پیتی یې اوچت کړ، شاعر وایي: (دیوان:321)

هغه بار چې آسمان نه شي آخستلی　　　　په کوم زور به یې عبدالقادر سهي کا

له شکه پرته چې شاعر دلته د یادو ایاتونو لفظي تکرار نه دی کړي، ختک بابا غواړي خپلو لوستونکو ته د احساساتو اوعواطفو په رڼا کې خپل داخلي حالت بیان کړي.

ج: لفظي اغېز: چې د قرآن کریم الفاظ او کلمات یې پخپل کلام کې کارولي وي.

ليکوالو اوشاعرانو د قرآن کريم اغيز په خپل کلام کې منلى او تل يې هڅه کړې چې د قرآني عبارتو اوکلماتو څخه د خپلو شعرونو او هنري نثرونو په ښکلا کې کار واخلي، دوی له قرآن کريم څخه تل الهام اخيستى او خپله شاعري يې پرې ښايسته کړې، پخوانيو عالمانو اوکره کتونکو دا کار يو ښه نوښت ګڼلى، جاحظ د عربي نړۍ ستر عالم او کره کتونکى وايي: چې خلکو به دا غوره ګڼله چې خطيبان يا شاعران په علمي او نورو ناستو کې په خپلو خبرو او بيانونو کې قران کريم له قرآن کريم څخه آياتونه را واخلي او خپل بيان او تقرير پرې ښکلى او ښاى کړي(جاحظ: ج،۱: ص: ۱۱۵)

عبد القادر خټک هم د نورو شاعرانو په څېر په خپلو شعرونو کې له قرآن څخه ګټه اخيستې، او د قرآن کريم دآيتونو ټوټې يې په ځينو شعرونو کې د خپل فکر او نظر د تاييد په پار کارولي.

د بېلګې په ډول بابا يوځاى د انسان د نا اميدي په اړه په کلام کې خبره کوي، او هغه دا چې د غم اوخپګان نړۍ ته دنه راتلو هيله لري نو بابا دلته د قرآن کريم له کلماتو څخه ګټه اخيستې اوخپل مراد يې پرې مضبوط کړى دى، شاعر وايي: (ديون:38)

چې تا قدم په خاورو کښېښود فلک		قال يا ليت ربا کنت تراب

شاعر دلته وايي انسان چې کله په ژوندون کې له ستونزو سره مخ شي، دزغم نه يې عاجز شي بيا دا هيله کوي خدايه کاشکي زه خاورې واى، دلته وينو چې شاعر ﴿يَالَيْتَنِي كُنْتُ تُرَابًا﴾ (النازعات:40) قرآني کلمات له لږ تغيير سره راخيستي اوخپل داخلي حالت يې پرې تعبير کړى.

بل ځاى خټک بابا د صبر او قناعت په اړه خبرې کوي، او له انسانانو غواړي چې د الله پاک په وېش خوښ او راضي وي، شاعر وايي: (ديوان:39)

ذل من طمع و عز من قنع		ځکه قانع شده اولو الالباب

دلته ښکاري چې شاعر د آيت کريمه ځيني کلمات ﴿إِنَّمَا يَتَذَكَّرُ أُولُو الْأَلْبَابِ﴾(الزمر:9) يې کارولي او خپل دريغ يې پرې غښتلى کړى، اوځيني هغه بد صفتونه يې په ګوته کړي چې د هغوى په ماهيت باندې يوازې اولو الالباب يعنى عاقلان پوهېږي.

او ښکاره خبره ده چې شاعر په ورپسې شعر کې هم د آيت کريمه يوه ټوټه راوړې، هغه وايي: (ديوان:39)

بې خدا وېره شرک خفي است		وهو القاهر وهو الوهاب

ختک بابا دلته خپل دریځ د آیاتونو څخه په الهام اخیستلو لا غښتلی او قوی کړی، او د ﴿وَهُوَ الْقَاهِرُ فَوْقَ عِبَادِهِ﴾(الأنعام:18) و﴿إِنَّكَ أَنْتَ الْوَهَّابُ﴾(آل عمران:8) آیاتونو یوه توته یې کارولې تر څو خپل کلام ته لا ښایست او ښکلا ور وبښي.

او همدارنګه ګورو چې شاعرپه وریسې شعر کې د قرآن کریم د یو بل آیت یوه توته په خپل کلام کې کارولې، هغه وایي: (دیوان: 39)

ربه عمل مې دی همه د بدی        تب علي فإنك أنت التواب

ښکاره ده چې شاعر د خپلې مدعی د ثبوت په پار د قرآن کریم له ﴿وَتُبْ عَلَيْنَا إِنَّكَ أَنْتَ التَّوَّابُ الرَّحِيمُ﴾(البقرة: 128) آیت یوه توته راوړې تر څو خپل کلام پرې غښتلی او مضبوط وښايي.

همدارنګه ختک بابا په بل ځای کې هم د قرآن کریم د آیاتونو ځینې توتې کارولې، شاعر وایي: : (دیوان:80)

تل له خدایه ترس کوه عبدالقادره        حق خایف ته دي ویلي لاتخف

دلته ګورو چې شاعر د خپل دریځ د لا پیاوړیتوب په پار د﴿لَا تَخَفْ إِنَّكَ أَنْتَ الْأَعْلَى﴾(طه:68) آیت کریمه یوه برخه را اخلي اوشعر پرې مزین او ښایسته کوي.

بل ځای شاعر د قرآن کریم ﴿وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِي آدَمَ﴾(الإسراء:70) آیت توته په خپل کلام کې کارولې ده، د انسان منزلت او مقام ته یې په کې اشاره کړې ده، شاعر وایي: (دیوان:107)

لـه اوله یې سجـود د فرښتو کړ        په تکــریم د کـرمنا شو مکرم

دلته جوته ده چې شاعر د خپل موقف د تایید او تاکید لپاره د قرآن کریم ته رجوع کړې، او د هغه په مرسته یې خپل کلام لا غښتلی او ښکلی کړی دی.

بل ځای شاعر په خپل کلام کې د قرآن کریم څخه په الهام اخیستني، وایي: (دیوان:204)

که د لوستی د لا ترکنوا آیت دی        سکه ګز د ظالمانو اعزاز مه کړه

دلته وینو چې شاعر د خپل دریخ د غښتلتیا او تقویت لپاره د ﴿وَلَا تَرْكَنُوا إِلَى الَّذِينَ ظَلَمُوا فَتَمَسَّكُمُ النَّارُ﴾(هود:113) آیت مبارکه توته کارولې او خپل کلام ته یې ښکلا وربخښلې ده.

اوهمدارنګه شاعر په بل ځای کې د قرآن کریم څخه په الهام اخیستني د خپل دریځ د تقویت او غښتلتیا په پار قرآني کلمات کارولي شاعر وایي: (دیوان: 395)

غیر به پرېږدي که د زړه فهم        په ضعف الطالب والمطلوب کاندي

دلته شاعر د شرک له آفت څخه د ځان ساتنې یادونه کړې ده، اوخپل موقف یې د قرآن کریم د ﴿ضَعُفَ الطَّالِبُ وَالْمَطْلُوبُ﴾ (الحج: 73) آیت د یوې ټوټې څخه په کارولو غښتلی کړی دی.

بل ځای هم شاعر د قرآن کریم د آیت یوه ټوټه د خپل دریځ د تقویت لپاره کارولې، شاعر وایي: (دیوان:433)

که باور دې په دا نه شي ورشه ګوره          په قرآن کې "بئس مثوی الظالمین"

دلته شاعر وینو چې دقرآن کریم د ﴿وَبِئْسَ مَثْوَى الظَّالِمِينَ﴾(آل عمران: 151) آیت مبارکه یوه ټوټه کارولې او د خپل دریځ د پخلي په پار یې له یاد آیت نه مرسته اخیستې ترڅو دخپلو احساساتوله لورې دا بیان کړي، هر هغه څوک چې ظلم کوي باید ځانونه اصلاح کړي کنه نو ځای به یې دوزخ وي.

شاعر بل ځای د قرآن کریم ځینې کلمات کارولي او د بشر په منځ کې دنبي کریم علیه السلام مقام بیان کړی. شاعر وایي: (دیوان477)

خوت موسی په طور "فاخلع نعلیک" حکم پر وشو          عرش هم مفخر شو په نعال د محمد (ص)

دلته شاعر د خپل دریځ د غښتلتیا لپاره د قرآن کریم ﴿فَاخْلَعْ نَعْلَيْكَ﴾(طه: 12) آیت یوه برخه په خپل کلام کې کارولې، ترڅو خپله مدعی چې هغه د محمد علیه السلام د منزلت او مقام اوچتوالی دی بیان کړي، او په ریښتیا چې هغه دګناهګارو شفاعت کونکی دی.

او همدا رنګه په بل ځای کې عبد القادر خټک دقرآن کریم کلمات په خپل کلام کې کارولي، شاعر وایي: (دیوان: 479)

سخت پر کافرانو وه تر زړه د کافرانو          نازل په باب یې ځکه "أشداء على الكفار" شو

دلته شاعر خپل دریځ د قرآن کریم څخه په استدلال قوي کړی، ومسلمانانو ته یادونه کوي چې له کافرانو سره نرمي مه کوئ او په هغوی زړونه مه سېځئ.

بل ځای شاعر د مسلمانانو تر منځ د مینې، محبت او ورورولی په هکله غږېدلی، او وایي: (دیوان: 479)

خدای چې "رحماء بینهم" و دوی ته وویې          ځکه یې په خوی د رحمت بیاموند زیب وزین

ګورو چې شاعر د خپل دریځ د کره والي اوتایید لپاره د قرآن کریم له ﴿رُحَمَاءُ بَيْنَهُمْ﴾ (الفتح: 29) آیت مبارکه څخه الهام اخیستی، او د مومنانو او مسلمانانو تر منځ په مینه او ترحم باندې یاد آیت دلیل نیولی.

پایله

د يادي خيږني په پايله کښې په پوره ډاډ سره ويلای شو چې عبدالقادر خان خټک د پښتو ادب يو نوموتی شاعر وو، پخپل کلام کښې يې د قرآن کريم يوه لويه برخه کارولې ده، د خټک بابا له دغه تګلارې دا خبره جوتيږي چې هغه د اسلامي اوعربي علومو سره کلکه رابطه لرله، او د وخت د نورو شاعرانو په څېر يې خپل شخصيت ثابت کړې وو، نو اړينه ده چې د پښتو ژبې او ادب مينوال د بابا دشاعرۍ دغه اړخ ته ډير پام وکړي، او حق يې ادا کړي، دلته به څو اړينو ټکو ته اشاره وکړو:

- دا چې عربي ژبه د بابا په زمانه کې د اسلامي علومو د تدريس ژبه وه، نو ځکه خټک بابا هم د يو مسلمان افغان شاعر په حيث د قرآن کريم پانګه په خپل کلام کې کارولې ده.
- خټک بابا په ډيرو ځايونو کښې د قران کريم څخه خپل فکر اوخيال ښکاره کړی دی او ګټه يې ترې اخيستې ده.
- خټک بابا په واقعيت کې يو غښتلی اونوموتی شاعر وو چې ويې کولی شول قرآن کريم ډير په کمال اوهنر سره وکاروي اقتباس ترې وکړي اوخپلی موخې ته ځان ورسوي.
- بابا يو واقعي اوموضوعي شاعر وو، د ټولنې د افرادو په دردونو او ناخوالو دردېدلو، او هغه يې پخپل شعر کښې انځور کړي دي.
- خټک بابا د عربي ادب څخه کلک اغېزمن بربښي، همدا لامل دی چې د ده په کلام کې ډيري داسي بېلګې شته چې دغه دعوه ثابتوي.
- دا چې خټک بابا عربي ژبه په پوره ډول زده وه او ښه بېلګه يې د امام بوصيري دعربی قصيدې په پښتو ژباړه ده .

سرچينې


- القرآن الكريم.
- آلوسي، محمود شهاب الدين الحسينی. (1415ق) روح المعاني، چاپ، دار الكتب العلمية بيروت لبنان.
- الجاحظ، عمروبن بحر بن محبوب الكنانی. (1968م) البيان والتبيين، لومړی چاپ، مكتبة الهلال بيرت لبنان.
- خټک، عبدالقادر(۱۳۲۸ش) ديوان سريزه او سمونه، نورالله ولسپال خپرندوی، د افغانستان د علومو اکاډمی.
- الصابوني، محمد بن علی(1997م) صفوة التفاسير، لومړی چاپ، خپرندوی، دار الفكر العربي بيروت .
- ضيف، شوقي(1995م) تاريخ الأدب العربي العصر الإسلامي، دويم چاپ، خپرندوی دار المعارف.
- القرطبي، الإمام محمدبن أحمد(۱۹۲۴م) الجامع لأحكام القرآن، دريم چاپ، خپرندوی: دار الكتُب المصرية القاهرة.